# د افغانستان د ملاتړ د نړیوال کنفرانس اعلامیه

## چې د غونډې د دریو ګډو مشرانو
## د فرانسې ولس مشر
## د افغانستان د اسلامی جمهوریت ولس مشر
## د ملګرو ملتو سرمنشي
## له خوا صادره شوه

## پاریس، د جون د میاشتې ۱۲ د ۲۰۰۸ کال

د افغانستان د اسلامی جمهوریت حکومت او نړیوالې ټولنې نن د پاریس په ښار کې غونډه وکړه چې د افغانستان د خلکو، دهغوی د امنیت، سوکالۍ او بشري حقوقو د خدمت په لاره کې خپل اوږدمهاله مشارکت یو ځل بیا تائید کړي.

دغه کنفرانس د افغانستان د پراختیا د ملي ستراتیژۍ (ANDS) د ملاتړ لپاره تر افغانی لارښوونې لاندې د نورهم نږدې ګډ کار یوه نوې ژمنه په نښه کوی. مونږ یو ځل بیا تائیدوو چې د افغانستان موافقه لیک (Afghanistan Compact) زمونږ د کار د منل شوي بنسټ په توګه پاتې کیږي. مونږ به د جوړښتونو ټینګښت او اقتصادی ودې ته، په تیره بیا د کرنې او انرژۍ په ډګر کې لومړیتوب ورکړو. ددغو سکټورونو په پام کې نیولو سره به مونږ په نورو ډګرونو کې چې ارزښتناکه کارونه ترسره شوي دي هم د پرمختګ بهیر چابک کړو. د افغان حکومت ژمنه کړې ده چې سیاسی او اقتصادی اصلاحات به منځ ته راوړي. نړیوالې ټولنې منلې ده چې نور هم زیاتې سرچینې برابرې کړې او دهغو څخه به په ډیره اغیزناکه توګه ګټه واخلي. مونږ ټول ژمنه کوو چې په ډیره هماهنګه توګه به کار کوو.

مونږ د افغانستان د موافقتنامې په باب د ګډې هماهنګۍ او نظارت د بورډ (JCMB) د ګډو مشرانو د ځیرنې د رپوټ هرکلی کوو چې هغه څرګند پر مختګ را په ګوته کوي کوم چې د هرڅه د مخه د روغتیا او ښوونې او روزنې ، زیربنا او اقتصادي ودې او هم د افغانستان د ملی امنیتي ځواکونو د لا پیاوړي کولو په ډګر کې تر سره شوي دي. مګر دغه رپوټ داهم په ډاګه کوي چې سختې ننګونې په تیره بیا د قانون د واکمنۍ او د قانون د تطبیق، د حکومت د ظرفیت، پراختیا ، د خصوصي سکټور دودې، او د ټولو افغاني اتباعو د شخصي امن په ډګرونو کې لاهم پاتې دي. مونږ ددغه رپوټ بنسټیزې پایلې تصدیقوو.

مونږ په افغانستان کې د امن او ثبات د راوستلو په هکله دهغو ژمنو هر کلی کوو کومې چې څه موده په خوا د بخارست په ښار کې یو ځل بیا تائید شوې دي.

نن مونږ په دغه نړیواله غونډه کې په لاندې بنسټیزو توکو باندې چې د افغان ولس د امن او سوکالۍ لپاره ډیر ارزښتناکه دي ټینګار وکړ:

په افغانستان کې د دموکراسۍ ټینګول:

مونږ د ټولو افغانانو لپاره د دموکراسۍ د ټینګښت په لاره کې د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو د انتخاباتو دترسره کولو په ارزښت باندې د یوه مهم ګام په توګه ټینګار وکړ. نړیوالې ټولنې ژمنه وکړه چې د انتخاباتو د آزادانه، عادلانه او باامنه کولو په مرسته کې به د دغه بهیر ټینګ ملاتړ کوي.

افغان ولس ته د ښې راتلونکي د برابرولو په موخه د افغانستان د پراختیا د ملي ستراتیژۍ ملاتړ:

دغه ستراتیژي به چې نن مونږ ته وړاندې شوه په راتلونکو پنځو کلونو کې زمونږ د ګډ کار تګلاره وي او زمونږ ګډ لومړیتوبونه را په ګوته کوي. مونږ به خپلې هڅې ددغې ستراتیژۍ د پلي کولو او تمویل ترشا پرلیکو کړو ترڅو چې هغو موخوته چې د افغانستان په موافقه لیک کې راغلي دي ورسیږو. مونږ موافقه وکړه چې بریالیتوب ته د رسیدو لپاره باید پورتنۍ ستراتیژي د ټول افغانستان په هر کلي اوبانډې باندې څرګنده مثبته اغیزه وکړي.

په زیربنا کې د پانګې اچونې هڅول، په تیره بیا د کرنې او انرژۍ په ډګر کې:

نړیوالې ټولنې د افغان حکومت ددغه نیت او ارادې څخه هرکلی وکړ چې د کرنې، اوبو لګونې او انرژۍ سکټورونو ته لومړیتوب ورکړل شي په داسې حال کې چې د سړک جوړولو، ښوونې او روزنې او روغتیایي سکټورونو مرستې هم دوام ومومي. مونږ ژمنه وکړه چې د هغو هڅو څخه به ملاتړ وکړو کومې چې د کرنې تولیدات زیات کړي او د کلیو پراختیا ته وده ورکړي او هم به په لویه کچه د بریښنا د انرژۍ د تولید، انتقال او ویشلو په برخو کې پانګه واچوو تر څو چې د افغانستان اقتصادی پراختیا وهڅوو او خلکو ته د کار امکانات برابر کړو. مونږ پریکړه وکړه چې د ټولو افغانانو د پاره د خوراکي موادو د خوندیتوب په لاره کې به خپلو هڅو ته دوام ورکړو او د خوراکي موادو د اوسني کمبود د له منځه وړلو په هکله به اقدام وکړو.

د خصوصي سکټور د ودې له لیارې افغانانو ته د امکاناتو برابرول:

افغان حکومت ژمنه وکړه چې د خصوصي سکټور د ودې څخه به د پورتنیو سکټورونو په شمول ملاتړ کوي. افغاني دولت داژمنه هم وکړه چې د عایداتو د ټولولو سیستم ښه کړي او داسې یو مقرراتی او تقنینی چاپیریال به رامنځته کړي چې پانګه اچونه جلب او خلکو ته د کار امکانات برابر کړي. افغان حکومت او نړیوالې ټولنې پریکړه وکړه چې د ډیرې آزادې سوداګرۍ د ودې په موخه ګډ کار وکړي ترڅو

د هغو څخه د سیمې هیوادونه د متقابله دوستۍ او اعتماد پراساس او د نړیوالو مکلفیتونو د رعایت سره سم ګټه واخلي.

د افغان حکومت د جوړښتونو ټینګول او ټولو خلکو ته د خدماتو د عرضې ښه کول:

ددې لپاره چې د تیرو شپږو کلونو په موده کې لاسته راغلی پرمختګ دوام ومومي افغان حکومت ژمنه وکړه چې د عامه ادارې، محلي حکومتونو، عدالت، پولیسو او نور د قانون پلي کوونکو ادارو د اصلاح کولو له لیارې په حکومت باندې د خلکو د باور د زیاتولو په خاطر اقدام وکړي. په دغه موخه دغه حکومت ژمنه وکړه کار به د کار اهل ته سپاري. ددغو هڅو په ملاتړ نړیوالې ټولنې موافقه وکړه چې په لوړه کچه د ملکي خدماتو د ظرفیت جوړنې له لیارې په ملي او ترهغه نه لاندو سطحو کې د دولتي نهادو د پیاوړتیا لپاره به خپلې مرستې زیاتې کړي.

د مرستو د اغیزمنتوب ښه کول ترڅو هر افغان وکولی شي د پراختیا ګټې لمس کړي:

نړیوالې ټولنې موافقه وکړه چې لا زیاتې، د وړاندوینې وړ، شفافه او حسابداره مرستې وکړي. هغوی همدارنګه موافقه وکړه چې ددوې ټولې پراختیایي مرستې به په ډیره هماهنګۍ سره صورت ومومي. دغه مرستې به د پیاوړې شوي او حسابداره حکومتي جوړښتونو دظرفیت له زیاتیدوسره سم په زیاتیدونکې توګه د ملي بودجې له لارې ترسره کیږي. نړیوالې ټولنې همدارنګه ژمنه وکړه چې خپلې مرستې په داسې توګه ترسره کړي چې سیمه ایز پیرودل او ظرفیت جوړونه وهڅوي. مونږ پریکړه وکړه چې د پراختیا ګټې دې ټولو ولایتونو ته په برابره توګه ورسیږي. مونږ همدارنګه پریکړه وکړه چې خپله پاملرنه دولت جوړونې ته واړوو او د موازي جوړښتونو څخه مخنیوی وکړو.

د فساد پرضد مبارزه کول:

افغان حکومت خپله ژمنه بیا تازه کړه چې د فساد پرضد مبارزه کې خپلې کړنې شدیدې کړي او په دې لاره کې مشخص ګامونه اوچت کړي. نړیواله ټولنه به له دغه ډول اقداماتو څخه ملاتړ وکړي. افغان حکومت او نړیواله ټولنه به د هغو پراګرامونو په باب چې د اساسي بودجې او باندنیو بودجو له خوا تمویلیږي دپلټنو په شمول مسلکي پلټنې پیل کړي او د حکومت د پلټنې او مالي حساب ورکولو ظرفیت به لوړ کړي.

د مخدره مواد پرضد د هڅو شدیدول:

مونږ خپله اندېښنه ښکاره کړه چې د مخدرو موادو د تولید او قاچاقو شبکې د پخوا په شان د افغانستان پراختیا په تیره بیا په یو څو ولایتونو کې ګواښوي. په عین وخت کې مونږ د هغو ولایتونو نه هرکلی وکړ چې نور په کې کوکنار نه کرل کیږي او شمیر یې هم مخ په زیاتیدو دئ. مونږ باید هڅه وکړو چې دغه ولایتونو ته اړونده مرستې وشي ترڅو دغه بریالیتوب دوام ومومي. افغان حکومت ژمنه وکړه چې د نشه یي توکو د غیرمشروع تولید او تجارت پرضد به ډیر اغیزمن ګامونه اوچت کړي. نړیوالې ټولنې ژمنه وکړه چې د افغان حکومت د پلانونو او هڅو ، په تیره بیا د بدیل معیشت د پراګرامونو د ملاتړ په هکله به منسجمې عملي مرستې او نورې منابع برابرې کړي.

<u>د ولس جوړولو په بهیر کې د مدني ټولنې د ډیر پراخ ګډون تامینول:</u>

نړیوالې ټولنې د افغان حکومت د دغې کلکې ژمنې څخه هرکلی وکړ چې دغه حکومت به د سولې په موخه او د یوې دموکراتیکې او پلورالیستي اسلامي ټولنې په جوړولو کې د خلکو د برخې اخیستنې په خاطر د مدني ټولنې او نورو ټولنو سره خپلو ګټورو خبرو اترو ته دوام ورکوي او له ناراضه ډلو سره به اړیکې ساتي.

<u>د ټولو افغانانو لپاره د بشر د حقوقو د درناوي پیاوړې کول:</u>

مونږ د بشر د حقوقو د ساتلو د پاره د قانون د واکمنۍ منځ ته راوړل ډیر ارزښتناک وګڼل. مونږ ژمنه وکړه چې د ښځو لپاره د عمل دملي پلان د پلي کیدو ملاتړ کوو. په تیره بیا ، مونږ د نړیوالو بشري قوانینو د احترام په دوامداره اړتیا باندې ټینګار وکړ. مونږ به،څرنګه چې په بخارست کې پریکړه شوې وه، خپلو هڅو ته دوام ورکړو ترڅو دملکي وګړنو څخه دمخنیوۍ په لاره کې ټول لازم اقدامات ونیول شي.

<u>د سیمه ایزو همکاریو ټینګول:</u>

مونږ د سیاسي، اقتصادي او امنیتي موضوع ګانو په هکله د سیمه ایزو همکاریو په ارزښت باندې ټینګار وکړ. مونږ موافقه وکړه چې د افغانستان ګاونډي هیوادونه د باثباته او خوندي پولولرونکي افغانستان د جوړولو په لاره کې د افغان حکومت د هڅو په ملاتړ کې بنسټیز رول لوبوي.

مونږ د کارونو د انسجام د ټولو اړخونو په لارښوونه کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي د خاص استازي او اوناما د اداري د پراخه رول په باب ټینګار وکړ او ژمنه مو وکړه چې ددغه رول څخه به هم د نړیوالو هڅو د انسجام او هم د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې ترمنځ په انسجام کې په پوره اندازه کار واخلو.

نن د پاریس په ښار کې د افغانستان د اسلامی جمهوریت حکومت او نړیوالې ټولنې ژمنه وکړه چې خپل مشارکت د افغانې لارښود توب، منل شوو لومړیتوبونو، او متقابلو مکلفیتونو پر اساس پیاوړی کړي. مونږ خپله دغه اراده او نیت یوځل بیا تائید کړ چې د اسلام د اصولو پربنا د یوه دموکراتیک، سوله ایز، پلورالیستیک او سوکاله دولت د جوړولو مرام به، څرنګه چې د بن د ۲۰۰۱ کال په موافقه لیک او د ۲۰۰۶ کال دافغانستان په موافقه لیک کې راغلي دي، پلی کوو.